# د پښتو ژبې لنډ ګرامر

لیکونکی: عبدالعلي رسولزاده
۲۰۲۳/۶/۱۰

# د عنوانو لست


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | له پیل څخه مخکې | |
| ۲ | د پښتو ژبې الفبې | ۱ |
| ۳ | د پښتو ژبې خاص توري | ۲ |
| ۴ | د عربي ژبې خاص توري | ۳ |
| ۵ | د پښتو ژبې ږغ لرونکي توري | ۴ |
| ۶ | پښتو (ی) ګاني | ۶ |
| ۷ | په پښتو کې (و) | ۹ |
| ۸ | کلمه | ۱۰ |
| ۹ | اسم | ۱۰ |
| ۱۰ | عام اسم | ۱۱ |
| ۱۱ | خاص اسم | ۱۱ |
| ۱۲ | اسم د شمېر له مخې | ۱۲ |
| ۱۳ | مفرد اسم | ۱۲ |
| ۱۴ | جمع اسم | ۱۲ |
| ۱۵ | اسم د حالت له مخې | ۱۳ |
| ۱۶ | فاعل | ۱۳ |
| ۱۷ | مفعول | ۱۴ |
| ۱۸ | اسم د جنس له مخې | ۱۴ |
| ۱۹ | مونث | ۱۵ |
| ۲۰ | مذکر | ۱۵ |
| ۲۱ | ضمیر | ۱۶ |
| ۲۲ | شخصي ضمیرونه | ۱۷ |
| ۲۱ | متکلم | ۱۷ |
| ۲۲ | مخاطب او غایب | ۱۸ـ ۱۹ |
| ۲۳ | ضمیر د حالت له مخې | ۲۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | فاعلي ضميرونه | ۲۲ |
| ۲۵ | مفعولي ضميرونه | ۲۲ |
| ۲۶ | ملکي ضميرونه | ۲۳ |
| ۲۷ | د خوا يا لوري ضميرونه | ۲۳ |
| ۲۸ | صفت | ۲۵ |
| ۲۹ | فعل | ۲۷ |
| ۳۰ | فعل د وخت له مخي | ۲۸ |
| ۳۱ | حال فعل | ۲۸ |
| ۳۲ | ماضي | ۲۹ |
| ۳۱ | مطلقه ماضي | ۲۹ |
| ۳۲ | قريبه ماضي | ۲۹ |
| ۳۳ | بعيده ماضي | ۳۰ |
| ۳۴ | را تلونکې زمانه | ۳۲ |
| ۳۵ | مصدر | ۳۳ |
| ۳۶ | امر | ۳۴ |
| ۳۷ | متعدي او لازمي فعلونه | ۳۴ |
| ۳۸ | متعدي فعل | ۳۴ |
| ۳۹ | لازمي فعل | ۳۴ |
| ۴۰ | قيد | ۳۶ |
| ۴۱ | د فعل قيد | ۳۶ |
| ۴۲ | د صفت قيد | ۳۶ |
| ۴۳ | د قيد قيد | ۳۶ |
| ۴۴ | د وصل کلمې | ۳۸ |
| ۴۵ | د ربط کلمې | ۳۹ |
| ۴۶ | جمله | ۴۰ |
| ۴۷ | ليک نښې | ۴۱ |
| ۴۸ | د تمرينونو جوابونه | ۴۳ |

# تر پیل د مخه خبري

د پښتو ژبي دغه لنډ ګرامر څه موده مخکي ما عبدالعلي رسول زاده په سویډن کي د پښتو ژبي د زدکوونکو لپاره و لیکی. هغه پښتو ژبي زدکوونکي چي په سویډنیو ښونځیو کي په زدکړه بوخت دي د هغو زدکړو تر څنګ په ښوونځي کي خپله مورنۍ ژبه هم لولي. په ښوونځي کي نه یوازي سویډني ژبه زده کوي بلکي تر څنګ ئې انګلیسي د دوهمي ژبي په توګه او جرمني یا فرانسوي یا هسپانوي یا کومه بله اروپایي ژبه د دریمي ژبي په توګه زده کوي.

که کوم زدکوونکی په ښوونځي کي خپله مورنۍ ژبه هم زده کوي نو نوموړی باید د دغو دو ژبو تر منځ په شباهتونو او توپیرونو هم و پوهیږي.

پورتني هدف ته د رسېدلو لپاره اړتیا وه چي دغه سي یو لنډ ګرامر راټول سي چي د یوې خوا زدکوونکو ته سخت نه وي او له بلي خوا ئې لومړی د سویډني ژبي سره او بیا د هغو نورو ژبو د زدکړي سره مرسته و کړي. زه پوهېږم چي دغه ګرامر ډېر لنډ دئ. خو د هغو څو کلونو تدریس له مخي چي مي نوموړو زدکوونکو ته کړی دئ دغه لنډ ګرامر مناسب و باله.

عبدالعلي رسول زاده
مالمو سویډن
alirasulzada@hotmail,com
0046709384755

# بسم الله الرحمن الرحیم

# د پښتو ژبې لنډ ګرامر

په ژبه کې ګرامر هغه پوهه ده چې سړي ته ور ښيي څرنګه په خبرو او ليکنو کې کلمې او نښې (ټکی ، کامه ...) په سمه توګه ځای پر ځای کړي.

د هرې ژبې خبرې له يو شمېر ږغونو څخه جوړې سوې وي. کله چې د يوې ژبې خبرې کوونکو د خپلې ژبې ليکلو ته اړتيا مونډلې ده. د هر ږغ لپاره ئې يوه نښه يا سمبول جوړ کړی دئ. دغه ټول ږغونه يا سمبولونه ئې سره يو ځای کړي دي او هغه ئې د خپلې ژبې د الفبې په نامه بللي دي. پښتنو هم د خپلې ژبې د ټولو ږغونو سمبولونه په يوه الفبې کې سره را ټول کړي دي. د پښتو الفبې د هر ږغ توری يا سمبول ئې په يوه نامه بللی دئ، چې دلته لاندي به ئې را وړو:

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ

س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن

ڼ و هـ ه ی ي ې ۍ ئ.

د الفبې توري دوه ډوله معرفي کيږي. يو د توري ږغ دئ او بل

ئې نوم دئ. د توري ږغ په ليکلو سره نه سو ښودلای، خو د نومونو د ښودلو يو څو مثالونه ئې دلته لاندي را وړو:

(ا) نوم ئې الف

(ب) نوم ئې بې.

(ګ) نوم ئې ګاف دئ.

(ر) نوم ئې رې دئ....

د پښتو ژبي الفبې د عربي ژبي له الفبې څخه جوړه سوې ده. په پورتنۍ الفبې کي يو شمېر ږغونه سته چي د پښتو او عربي تر منځ ګډ دي، هغه لکه:

ا ب ت ج خ د ر ز س ش غ ک ل م ن و هـ ه ی ي

## د پښتو ژبي خاص توري:

هغه چي په فارسي او عربي کي نه سته. په پورتنۍ الفبې کي دغه لاندي ۸ توري، خاص پښتو توري دي:

ټ ځ څ ډ ړ ږ ښ ڼ

که څوک غواړي چي سوچه پښتو خبري يا ليکنه و کړي نو په خپلو ليکنو او خبرو کي دي هغه کلمې خوښي کړي چي د دغو اتو تورو څخه يو يا څو توري پکښي راغلي وي لکه:

ټاکنه، ټال، ټاټوبی، ټغر، ټول....

**ثپلۍ ، ثراغ ، ثملاستل ، ثټ ...**

**ځلمی ، ځولۍ ، ځواني ، ځنګل ...**

ډېر ، ډګر ، ډنګر ، ډول ، ډډه ...

ربړ ، پروړ ، مړ ، موړ ، ړوند ...

زيږ ، موږ ، کوږ ، لږ ، خوږ ...

ښکلی ، ښه ، ښاغلی ، ښکر ...

رڼا ، پاڼه ، کوڼ ، روڼ ، منه ....

## د عربي ژبي خاص توري:

دا چي موږ په پښتو کي يو شمېر عربي کلمې هم کاروو، ځکه مو د هغو کلمو د تلفظ له پاره په خپله الفبې کي د عربي ژبي د هغو ږغو(سمبولونه) توري هم را وړي دي :

ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق (۱۰ توري)

| | | |
|---|---|---|
| ثواب | حل | ذخيره |
| صادق | ضرب | طياره |
| ظلم | عاجز | فرق |
| قدر | | |

د الفبې په تورو کي دغه لاندي توري د پښتو او فارسي تر منځ شريک توري دي:

پ چ ژ ګ

په پورتنۍ الفبې دغه هغه څلور توري دي چي په پښتو او دري دواړو کي را ځي، خو په عربي کي نه کارول کيږي.

په پورتنۍ الفبې کي (الف، و، ي او ې) د واول vowel يا ږغ لرونکو تورو او هغه نور توري د بې ږغه يا کونسونانتو consonant په نامه يادېږي چي دلته لاندي به ئې و وينو:

(ا) ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ (و) و هـ ه ی (ي) ې ۍ ئ.

د الفبې پر تورو (ا، و، و، ي، ې) سربېره په پښتو کي (زورَ، زېرِ، پېښُ مد آ او زورکی) هم په کلمو کي د واول تورو په شان کارول کيږي.

دلته لاندي به واول توري و پېژنئ:

vowel يا ږغ لرونکي توري لکه:

(ا، و، ي، ې).

واول توري په کلمو کي کانسونانت يا بې ږغه توري سره مښلوي او يا يې په حرکت را ولي څو له دې لاري کلمې جوړي کړي. دا بايد و وايو چي نه يواځي واول توري کلمې جوړوي

بلکي (زوَر ، زېر، پېښ ، مَد او زورکی) هم د واول کار ور کوي مثالونه ئې لکه:

## لومړی-

## د واول تورو مثالونه:

کالي: په کا کي (ا) او په لي کي (ي) واول دي.

موږ : په موږ کي د (مو) لنډ (و) واول دي.

ډېر: په (ډېـ) کي (ېـ) واول ده.

خوب: په (خو) کي اوږد (و) واول دئ.

(ا ،و ، و ، مد ، ي او ې) اوږده واول دي او اوږده تلفظ کیږي.

## دوهم -

## د واول نښو مثالونه:

آس: په (آس) کي (مد) واول دئ او الف کونسونانت دئ.

کَټ: په (کَټ) کي زور واول دئ.

سِر: په (سِر) کي د (س) زېر واول دئ.

هُم : په (هُم) کي د (هـ) پېښ واول دئ.

تل (همیشه): په (تل) کي د (تـ) زورکی واول دئ ، دا چي په کیبورډ کي زورکی نه سته نو مو نه دئ لیکلی.

(زور ، زېر ، پېښ ، او زورکی) لنډ واول دي یعني لنډ تلفظ کیږي. له بده مرغه نسي کېدای چي لنډ او اوږد تلفظ په لیکنه

کي و ښودلای سو.

پښتو (ی) ګاني: په پښتو کي دغه پنځه (ی، ي، ې، ۍ، ئ) سته:

## ۱ـ نرمه یا ملینه (ی):

دغه (ی) چي ټکي نه لري د نرمي (ی) په نامه بلل کیږي. دغه (ی) واول نه ده په کلمه کي د نورو بې ږغو (کونسونانت) تورو په شان را ځي لکه: سپی، سړی، غویی، ځای، زوی، دی، ستړی او نور. کله چي د اسم (نوم) په پای را سي هغه اسم به نرینه نوم وي.

د نرمي (ی) له مخه توری به یا زور و لري، یا به (الف) او یا (و) لري لکه: سړی، لرګی، غویی، خوریی، ځای، پای، چای، زوی، بوی، خوی، توی....

## ۲ـ لنډه یا معروفه (ي):

لکه کالي، بنګړي، مامي، دي، سپي، سړي، لرګي او نور. لنډه (ي) ځیني وختونه واول او ځیني وختونه کونسونانت یا بې ږغه وي چي یو څو مثالونه به ئې دلته را وړو:

لنډه (ي) د واول په شان:

ـ کیږي: دلته له (ک) څخه وروسته (ي) واول ده.

ـ دي : دلته له ( د ) څخه وروسته ( ي ) واول ده، ځکه ( د ) ئې حرکت ور کړی دئ .
ـ تیر : دلته (یـ) واول ده ، ځکه (تـ) ئې له (ـر) سره منبلولې ده .
ـ ږیره : (یـ) واول ده ځکه (ږ) ئې له (ر) سره منبلولې ده .

لنډه (ي) د کونسونانت په شان :

ـ یَو : دلته (یَـ) ده ، ځکه زور له کونسونانت (و) سره منبلولې ده .

یار : دلته (یـ) کونسونانت او (الف) واول دئ چي له (ر) سره ئې منبلولی دئ .

ـ یوم : دلته (یـ) کونسونانت ده چي د واول (و) له لاري له (م) سره منښتې ده .

## ۳ ـ اوږده یا مجهوله (ې) :

لکه ادې ، شیدې ، مستې ، پایڅې ، ډېر ، تېر ، ببېل او نور .
اوږده (ې) هر وخت واول وي او هیڅ وخت کونسونانت نه وي .

## ۴ ـ درنه یا ثقیله ښځینه (ۍ) :

لکه : ډوډۍ ، ګاډۍ ، چوکۍ ، غالۍ ، ملالۍ او نور .
دغه (ۍ) د مونث یا ښځینه نومو له پاره راځي . دغه (ۍ) هیڅ وخت واول نه وي بلکي تل کونسونانت وي . د دغي (ۍ) تر مخ توری تل زورکی لري .

## ۵ ـ درنه (ثقیله) فعلي (ئ):

دغه ثقیله (ئ) زیاتره د امریه فعلونو لپاره را ځي لکه: وکړئ!، راوړئ!، را ئې وړئ، وخورئ! مه ځئ او نور. درنه ښځینه (ۍ) او درنه فعلي (ئ) دواړي واول نه بلکي کونسونانت دي او تر مخ توری ئې تل زورکی لري.

دلته باید و وایو چي د پښتو د پنځو (ی، ي، ې، ۍ، ئ) له جملې څخه (ي، ې) واول دي. مخکي مو و ښوده چي (ي) کله واول او کله کونسونانت ده.

(ی، ۍ، ئ) هر وخت کونسونانت دي او هیڅ وخت واول نه وي.

## لومړی ـ تمرین:

په لاندي جملو کي د خپل تلفظ له مخي (ی) صحیح کړئ او بیا ئې د کتاب په پای کي د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

یو سړی ډاکتر ته ورغی او له خپلی ناروغی څخه ئی شکایت وکړ.

ډاکتر ور ته و ویل: ”ولی وختی را نه غلی“.

ناروغ ورته و ویل: ”پخوا می له یونانی طبیب څخه دوا

اخیسته".

ډاکتر و ویل: "هغه مزخرف سړی دی او د څو مزخرفو دواوو نومونه ئی زده دی او ډېر نه پوهیږی".

ناروغ و ویل: "هو! ستا مزخرف نوم ئی هم زده وو".

## په پښتو کي (و):

په پښتو کي (و) دوه ډوله تلفظ کیږي مګر په لیکلو کي دواړه یو شان لیکل کیږي لکه:

## ۱ـ اوږد یا مجهول (و) لکه:

زانګو، بیزو، ښارو، کاکو، تور، مور، خور او نور. اوږد (و) هر وخت واول دئ هیڅ وخت کونسونانت نه را ځي.

## ۲ـ لنډ یا معروف (و) لکه:

کډو، بازو، زوی، بوی، لوی، خوی، توی او نور. لنډ (و) کله واول او کله کونسونانت وي. لنډ (و) په پورتنیو اسمو کي واول دئ. کونسونات ئې لکه: یَو، کنډَوْ، لَو، پَلَو، وَلوَر، وار او نور. لنډ (و) هلته کونسونانت دئ چي د یوه واول په واسطه له کوم بل توري سره مښتی وي.

## word کلمه

هره معنا لرونکې خبره چي انسان ئې تر خوله را باسي کلمه بلل کيږي لکه : زه ، دوی ، مېز ، کتاب ، ته ، دی او نور . کلمه لاندي ډولونه لري :

| | |
|---|---|
| **Noun** | اسم ( نوم ) |
| **Pronoun** | ضمير |
| **Adjective** | صفت |
| **Verb** | فعل |
| **Adverb** | قيد |
| **Conjunktion** | د وصل يا نښلولو توری |
| **Preposition** | د ارتباط توری |

## noun اسم يا نوم

اسم هغه کلمه ده چي د يو شي، انسان، حيوان يا ځای نوم وي لکه : سړی، کتاب ، ښوونځی ، کور ، موږک ، ښار ، کاغذ ، ژړا، افغانستان ، خوب ، خندا او نور .

**دوهم تمرين:**

په لاندي جملو کي اسمونه پيدا کئ او بيا ئې د جوابو له پاڼي سره وګورئ!

يوه سلماني د يوه سړي سر په پڅه چاړه ور خرايه او پر سر ئې ويني را بهېدلې. پدغه وخت کي سلماني پوښتنه ځيني و کړه: "څو وروڼه ياست"؟

سړي جواب ور کړ: "که ستا له چړې څخه ژوندی پاته سوم نو درې وروڼه يو".

اسم پر دوه ډوله دئ لکه عام اسم او خاص اسم:

**الف- عام اسم:**

عام اسم هغه اسم ته وايي چي د هغه جنس د ټولو غړو نوم وي لکه: مېز، کتاب، هلک، ښځه، ښار، قلم، غوا او نور.

**ب - خاص اسم:**

هغه اسم ته وا يي چي د هغه په ډول بل نه وي، لکه:

احمد، کابل، هرات، حليمه، جرمني، لمر، مځکه....

**درېيم تمرين:**

په لاندي جملو کي عام او خاص اسمونه پيدا کئ او بي ئې د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

کله چي احمد شاه بابا د هندوستان تر سفر وروسته د خپل لښکر سره بیرته د کندهار خوا ته را رهي سو، د کندهار ښار ته نژدې ئې د شپې تېرېدو تیاري و نیوله. په دغه وخت کي یو عسکر په تېښته کور ته ولاړ.

## اسم د شمېر له مخي:

یا مفرد (یو) وي او یا جمع (ډېر) وي.

**مفرد اسم:**

مفرد یعني (یو) لکه: قلم، کاغذ، مېز، سړی، خوب او نور.

**د اسم جمع یعني (ډېر) لکه:**

| مفرد | جمع |
|---|---|
| قلم | قلمان |
| کاغذ | کاغذونه |
| مېز | مېزونه |
| سړی | سړي |
| غوا | غواوي یا غواګاني |
| غل | غله |
| وری | وري |
| ډوډۍ | ډوډۍ |
| نجلۍ | نجوني .... |

## ځلورم تمرین:

په لاندي جملو کي لومړی اسمونه پیدا کئ او بیا ئې جمعي و لیکئ!

یوه غله د یوه سړي د کور دېوال سوری کړ او کور ته ور ننووت. د کور خاوند پر را ویښ سو. غل و ببرېدی او و ئې غوښتل چي د دېوال تر سوري و وزي. د کور خاوند تر پښه و نیوی. غله ناره کړه: "وروره! دغه پښه مي خوږېږي، هغه بله پښه مي و نیسه". د کور خاوند چي د غله پښه ایله کړه، غل ځني و تښتېدی.

اسم د حالت له مخي یا فاعل وي یا مفعول.

**فاعل subject:**

فاعل هغه څوک یاشی دئ چي یو کار کوي یعني فعل یا کار د ده له خوا تر سره کیږي لکه: په لاندي جملو کي تر کومي کلمې لاندي چي کرښه کش سوې ده فاعل دي:

احمد ښوونځي ته ولاړ.

ملالۍ کابل ته ځي.

ښوونکی چیري ولاړ؟

احمد او محمود به را سي.

**مفعول** object :

مفعول هغه څوک يا شی دئ چي د فاعل فعل يا کار پر تر سره کيږي لکه :

زمرک سدو ته و ويل .

ښوونکي زدکوونکي ته ورغی .

احمد نوی کور جوړ کړ .

مورِ خپل کالي مينځو .

تا له احمد سره خبري کولې .

**پنځم تمرين :**

په لاندي جملو کي فاعل او مفعول پيدا کئ او بيا ئې د جوابو له پاڼي سره و ګورئ !

خوشال انځر ګل ته و ويل ، د جمعې په ورځ به مورِ احمد و وينو . احمد يو ډېر ښه تلويزيون لري، مورِ به په هغه تلويزيون کي د فتبال لوبه و ګورو . بيا به مورِ د احمد له پلار سره خبري و کړو .

## اسم د جنس (نر يا ښځه) له مخي دوه ډوله دئ :

۱ ـ مونث (ښځينه) اسم :

لکه غوا، پښه ، پياله ، انا ، بيزو، نجلۍ ، کوځه ، پاڼه او نور .

۲ ـ مذکر (نرینه) اسم:

لکه نیکه، پلار، ورور، توتي، مېز، زوی، تره، موټر، سړک او نور.

دلته به د مونث او مذکر اسمو د مفرد او جمع یو څو مثالونه را وړو:

مونث اسمونه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| شپږه | شپږې |
| ګډوه | ګډوې |
| پیاله | پیالې |
| انا | انا ګاني |
| ارزو | ارزو ګاني |
| ډوډۍ | ډوډۍ |
| نجلۍ | نجوني |

مذکر اسمونه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| غل | غله (پر ل زورکی دئ) |
| سړی | سړي |
| سپی | سپي |

اکا (کاکا) اکاګان (کاکا ګان)

مېز مېزونه

مېږی مېږیان

هره ژبه له یوې خوا ځیني استثناوي لري او له بلي خوا ځیني خاصي قاعدې لري. که غواړی چي دغه قاعدې و لولئ، په مهرباني سره په www.pashto.se پښتو پاڼه کي د (پښتو ژبه او ګرامر) تر نامه لاندي په لیکنه کي و ګورئ.

## pronoun ضمیر

ضمیر هغه کلمه ده چي د اسم یا نوم پر ځای را ځي لکه:

| | |
|---|---|
| **زه** | **موږ** |
| **ته** | **تاسي** |
| **دی، دا، دغه، هغه** | **دوی، هغوی** |
| **زما** | **زموږ** |
| **ستا** | **ستاسي** |
| **د ده، د دې** | **د دوی** |
| **د دغه** | **د دغو** |

**پورتني ضمیرونه د شخصي ضمیرو په نامه یادیږي.**

په لاندي جملو کي د ضميرونو مثالونه وګورئ! تر هر ضمير لاندي يوه کرښه (ليکه) کش سوې ده:

دې (دغي ښځي) لوست زده کړ.

زه کابل ته ولاړم.

ما له ده سره خبري وکړې.

ته ولي نه وې را غلی؟

**شپږم تمرين:**

په لاندي جملو کي ضميرونه پيدا کئ او بيا ئې د جوابو له پاڼي سره وګورئ!

ده له‌دوی سره خبري کولې چي د دې ورور را غی.

ما د دې کتابونه ور وړل.

تا ولي دوی ته خبر ور کړ چي زما قلم ورک سو؟

**شخصي ضميرونه درې ډولونه لري لکه:**

| | |
|---|---|
| ۱ـ متکلم | first person |
| ۲ـ مخاطب | second person |
| ۳ـ غايب | third person |

**۱ـ متکلم** first person

متکلم هغه څوک دئ چي خبري کوي لکه:

زه کور ته ځم . دلته (زه) متکلم دئ .

موږ کور ته ځو . دلته (موږ) متکلم دئ .

ما احمد ته و ویل. دلته (ما) متکلم دئ.

۲ـ مخاطب second person :

مخاطب هغه څوک دئ چي متکلم خبري ور ته کوي لکه: ته ، تا ، تاسي.

ته کور ته ولاړ سه. دلته (ته) مخاطب دئ.

تا له ده سره و ځغستل. دلته (تا) مخاطب دئ.

تاسي کور ته ولاړ سئ. دلته (تاسي) مخاطب دئ.

۳ ـ غایب third person :

غایب هغه څوک دئ چي متکلم د مخاطب سره د هغه په باره کي (په اړه) خبري کوي لکه:

دی کور ته ځي . دلته (دی) غایب ضمیر دئ.

دا کور ته ځي. دلته (دا) غایب ضمیر دئ.

دغه را وړه . دلته (دغه) غایب ضمیر دئ.

دوی کور ته ځي. دلته (دوی) غایب ضمیر دئ.

متکلم، مخاطب او غایب مفرد او جمع لري لکه:

د متکلم مفرد: زه، ما

مثال ئې:

زه کابل ته ځم.

زه کابل ته ولاړم.

ما احمد ته و ویل.

د متکلم جمع: مونږ

مثال ئې:

مونږ کتاب لولو.

مونږ کتاب و لوست.

د مخاطب مفرد: ته، تا

مثال ئې:

ته لیک لولې.

تا لیک و لوست.

د مخاطب جمع: تاسي

مثال ئې:

تاسي ډوډۍ و خوړه.

تاسي ډوډۍ خورئ.

غایب ضمیرونه:

د غایب مذکر مفرد: دی، ده، دغه، هغه

مثال ئې :

دی له هیواد سره مینه لري .

ده له هیواد سره مینه لرله .

دغه او هغه ښځه دې څخه چې لیري والی او نیژدې والی ښکاره کې نور توپیر نه لري لکه :

مثال ئې :

دغه یا هغه مې په کابل کې و لیدی .

د غایب مذکر جمع : دوی ، هغوی

دوی پوهنتون ته ولاړل .

دوی مې په کابل کې و لیدل .

هغوی مې په کابل کې و لیدل .

د غایب مونث مفرد: دا ، دې ، دغه ، هغه ، دغې ، هغې

مثال ئې :

دا هم له هیواد سره مینه لري .

دې هم له هیواد سره مینه لرله .

دغه یا هغه مې په کابل کې و لیده .

دغې یا هغې احمد ته خپل حال و وایه .

**د غایب مونث جمع:** دوی ، هغوی

**مثال ئې:**

دوی له ښوونځي سره مینه لري.

دوی له احمد سره خبري و کړلې.

هغوی له کابله یا (له کابل څخه) را غللې.

هغو خپلو میندو ته ډوډی ور کړه.

## اوم تمرین:

په لاندي جملو کي متکلم ، مخاطب او غایب ضمیرونه پیدا کئ!

تاسي د دې په اړه ده ته خبري کړي دي.

دوی ده ته کتاب ور کړ.

ما لا خپل لوست نه وو خلاص کړی چي دوی را غلل.

تا چي زموږ سره خبري و کړې دوی ولاړل.

هغې چي تاسي و لیدلاست ډېره خوشاله سوه.

هغو موږ ته ډوډی را کړه.

## ضمیر د حالت له مخي:

دلته لاندي به دغه درې ډوله ضمیرونو مثالونه را وړو:

فاعلي حالت:

زه ، ما: زه ښوونځي ته ځم. ما ډوډۍ و خوړه.

موږ: موږ ښوونځي ته ځو. موږ ښورروا و خوړه.

ته ، تا: ته کار کوې. تا کار و کړ.

تاسي: تاسي کار کوی (کوئ). تاسي و ځغستل.

دی ، ده: دی ډوډۍ خوري. ده و ویل.

دا ، دې: دا کالي مینځي. دې کالي و مینځل.

دغه ، دغي: دغه را ځي. دغي و ویل. دغي و ویل.

دوی: دوی ښار ته ولاړل. دوی احمد ته و ویل.

مفعولي حالت:

زه ، ما: احمد زه و وهلم. احمد ما ته و ویل.

موږ: دوی موږ وهي. ده موږ خبر کړو.

ته ، تا: احمد ته و وهلې. احمد تا رېغوي. احمد تا وهي.

تاسي: محمود تاسي بیایي. محمود تاسي خبر کړلاست.

دی: سدو دی و واهه. سدو دی را ولي.

دا: محمود دا بیایی. محمود دا خبره کړه.

دغه: احمد دغه له ځانه سره وړي. ده دغه له ځان سره یو وړ.

دوی: زه دوی ته وایم. ما دوی ته و ویل.

**ملکي حالت:**

زما: زما کتاب را کړه.

زموږ: زموږ کالي سپين رنګ لري.

ستا: ستا ښوونځی چيري دئ؟

ستاسي: ستاسي کور چيري دئ.

د ده: د ده قلم مات سو.

د دې: د دې موټر خراب سو.

د دغه: د دغه څخه کتاب را واخله!

د دوی: د دوی کالي خيرن دي.

**د خوا يا طرف ضميرونه:**

د خوا ضميرونه هغه ضميرونه دي چي متکلم و مخاطب او غايب ته يو څه وايي. د خوا ضميرونه درې دي لکه: (را)، (در) او (ور). دغه ضميرونه ځکه دلته را وړل سوي دي چي په زياترو وختو کي ئې خلک په خبرو کي (در) د (تر) د رابطې سره ګډوي.

مثالونه ئې:

د متکلم خوا ته:

له ما سره را ځه! دلته متکلم مخاطب ته وايي، را ځه!

د مخاطب خوا ته:

ته در ځه! متکلم دلته مخاطب ته وايي، در ځه!

د غايب خوا ته:

ته دوی ته ور ځه! متکلم دلته مخاطب ته وايي، ور ځه!

زياتره خلک غلطي کوي، (در) او (تر) سره ګډوي، هغه دا چي متکلم وايي:

در ځو به زه تا ته ولاړ يم؟ اصلا بايد و وايي، تر ځو به زه تا ته ولاړ يم؟ مثالونه ئې:

| نا سم | سم |
| --- | --- |
| در ځو به موږ ولاړ يو؟ | تر ځو به موږ ولاړ يو؟ |
| در سهاره ويښ وم. | تر سهاره ويښ وم. |
| در کوم ځايه ولاړې؟ | تر کوم ځايه ولاړې؟ |
| در ما را و رسېد. | تر ما را و رسېد. |

در کله به موږ په جګړو لګيا يو؟ دغه سمه جمله نه ده. بلکي، تر کله به موږ په جګړو لګيا يو، سمه جمله ده.

# صفت adjectiv

صفت هغه کلمه ده چې په جمله کې پر اسم تاثیر کوي لکه:
جګ سړی، توره غوا، زوړ کتاب ، کوچنی هلک، ښه مېوه او نور.

دلته جګ ، توره ، زوړ ، کوچنی ، او ښه صفتونه دي.

صفت د اسم د مذکر ، مونث ، مفرد او جمع تر تاثیر لاندي را ځي لکه:

یو زوړ سړی.

درې زاړه سړي.

یوه زړه ښځه.

څلور زړې ښځي.

یو موړ پسه.

دوه ماړه پسونه.

یوه مَړه مېږ.

پنځه مَړې میږي.

یو پوخ دېګ.

دوه پاخه دېګونه.

یوه پخه ډوډۍ.

شپږ پخې ډوډۍ.

د صفت د ډولونو څخه یو ډول عددي صفت دئ لکه: یو، دوه، درې، څلورم، اتم، دوولسم، نیم، درې څلورمي او نور.

مثالونه ئې:

ملالۍ درې قلمان لري.

احمد دوه توتیان لري.

مورږ په دوو ښوونځیو کي لوست وایو.

زمورږ د کلي هر دریيم کوچنی په ښوونځي کي نه دئ.

د احمد کور په څلورم منزل کي دئ.

## اتم تمرین:

په لاندي جملو کي صفتونه پیدا کئ! بیا ئې د کتاب په پای کي د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

احمد ښه زدکوونکی دئ.

زمورږ کور په هغه سره تعمیر کي دئ.

احمد چي راغی له ځان سره ئې یو ښکلی بایسکل را ووست.

په دې لوی ښار کي د بربښنا جګي پایې ستنه.

سدو د ډوډۍ څلورمه برخه و خوړه.

د دغه ښار هره شپږمه نجلۍ ګنډل کولای سي.

دوی درو درو هلکانو ته پیسې ور و وبشلې. د باغ او مځکي د حاصلاتو لسمه برخه باید په زکات کي ور کړه سي.

# فعل verb

فعل هغه کلمه ده چي د یوه کار کول ښکاره کوي لکه: څم، خورو، لیکې، را وړئ!، ګوري، خاندي، څو، را غلو او داسي نور.

مثالونه ئې په جملو کي:

زه کور ته څم.

زه کابل ته ولاړم.

مورې کابل ته ولاړ سو؟

مورې به کابل ته ولاړ سو.

ته کابل ته تللی وې.

دوی کابل ته تللي دي.

په پښتو کي فعل د جملې په پای کي را ځي. په پورتنیو جملو کي ئې وینی چي فعلونه د جملو په پای کي را غلي دي.

نهم تمرین:

پدې لاندي جملو کي فعلونه پیدا کئ!

میرویس د ښوونځي څخه را ځي. پر لاري د احمد ورور ور سره را اخلي. کله چي ئې کتابونه را وړل د خپل ښوونکي سره خبري کوي.

**فعل د وخت یا زماني له مخي:**

**د فعل یا کارکولو څخه وخت هم ښکاره کیږي لکه حال (اوس)، ماضي (تېره زمانه) او مستقبل (راتلونکې) زمانه. اوس به دلته هره هره زمانه و لولو:**

**لومړی ـ**

**حال** present:

**هغه زمانه (وخت) دئ چي یو کار اوس کیږي.**

**مثالونه ئې:**

زه ښوونځي ته ځم.

ملالۍ لیک لیکي.

پسه واښه خوری.

تاسي ګنډونکي ته کالي وړی.

دا نن له کابله را ځي.

دوی کار کوي.

ته مېوه خورې.

دښمن د خلکو کور نړوي.

دوهم ـ

ماضي يا تېره زمانه :

هغه زمانه ده چي يو كار په تېر وخت كي سوى وي. د دغي زمانې درې ډولونه به دلته را وړو.

الف ـ

مطلقه ماضي past tens :

چي يو كار په تېره زمانه كي سوى وي لكه :

زه پرون كور ته را غلم.

ما كورنى كار و كړ.

موږ ښوونځي ته و لاړو.

ته ښوونځي ته ولاړې.

تا ډوډۍ و خوړه.

ده كار و كړ.

دى (احمد) ښوونځي ته ولاړ.

دوى كابل ته ولاړل.

ب ـ

قريبه يا نيژدې ماضي present perfect :

پدې زمانه كي يو كار اوس ته نژدې په تېره زمانه كي سوى

وي لکه :

زه ښوونځي ته تللی یم.

مونږ کتاب را وړی دئ.

ته کابل ته تللی یې.

تا ډوډی خوړلې ده.

تاسي کور ته تللي یاست.

ده خپل کارونه کړي دي.

دې ډوډی خوړلې ده.

دوی خپل کلي ته تللي دي.

یو ټکی چي دلته ډېر مهم دی، هغه دا چي په قریبه ماضي کي باید یو کومکي فعل لکه: یم، یو، یې، یاست، دئ، ده، دي را وړل سي.

ج -

بعیده یا لیري ماضي past perfect :

هغه ماضي ده چي یو کار په لیري تېره زمانه کي سوی وي لکه:

زه کندهار ته تللی وم.

مونږ خپل کار کړی وو.

ته کابل ته تللی وې.

تاسي خپل کورنی کار کړی وو.

ده موټر جوړ کړی وو.

دې له خپل پلار سره خبري کړي وې.

دوی را غلي ول.

د قریبي ماضي په شان په بعیده ماضي کي هم باید په هره جمله کي یو کومکي فعل لکه: (وم، وو، وې، واست، وو، وه، ول، وې) را سي. د قریبي او بعیدي ماضي کومکي فعلونه دي چي دغه دوې ماضي زمانې سره جلا کوي.

دلته به بده نه وي چي د قریبي او بعیدي ماضي یو ځو مثالونه په انګلیسي کي را وړو. دا ځکه چي په دغو دواړو ماضي زمانو کي کومکي فعلونه سته او موږ اوس په پښتو کي دغه کومکي فعلونه لیري کوو لکه: د قریبي ماضي مثال:

| | |
|---|---|
| ما مطالعه کړې ده. | I <u>have</u> studied. |
| ده مطالعه کړې ده. | He <u>has</u> studied. |

د بعیدي ماضي مثال:

| | |
|---|---|
| ما یو کتاب مطالعه کړی وو. | I <u>had</u> studied a book. |
| ده یو کتاب مطالعه کړی وو. | He <u>had</u> studied a book. |

دريم -

را تلونکې زمانه future:

چي يو کار په را تلونکې زمانه کي کيږي. د دغي زمانې نښه په ليکنه کي د (به) کلمه ده لکه:

زه به سبق و لولم.

موږ به کتاب را وړو.

ته به کالي و مينځې.

تاسي به ډوډۍ و خوری (و خورئ).

دی (احمد) به را سي.

دا (ملالۍ) به و خاندي.

دوی به خط و ليکي.

لسم تمرين:

په لاندي جملو کي و ښياست چي هره يوه ئې په کومه زمانه کي پېښه سوې ده. او بيا ئې د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

دی زما سره کابل ته ځي.

ته خپل لوست لولې.

دوی د احمد له پلار سره ولاړل.

ما خپل کتاب لوستلی دئ.

دې تاسي ته ښخوا ويلي ول.
هغه به سبا له افغانستان څخه را سي.
زه کابل ته تللی وم.
تا خپل کالي اغوستي ول.
دوی را غلي دي.

## مصدر infinitiv :

مصدر هغه کلمه ده چي د هغه څخه د فعل مختلف حالتونه جوړيږي او يا مصدر د فعل نوم دئ، د مصدر په اخر کي (ل) وي لکه:
ليکل، کتل، کول، ښکاره کېدل، ځغستل، پرېکېدل، پرې کول او نور. دلته به يو مثال را وړو چي څرنګه د خوړل له مصدر څخه د فعل نور حالتونه جوړيږي لکه:

### خوړل

| حال | مطلقه ماضي | قريبه ماضي | بعيده ماضي | راتلونکې |
|---|---|---|---|---|
| خورم | و مي خوړ | خوړلی مي دئ | خوړلی مي وو | و به يې خورم |
| خورو | و مو خوړ | خوړلی مو دئ | خوړلی مو وو | و به يې خورو |
| خورې | و دي خوړ | خوړلی دي دئ | خوړلی دي وو | و به يې خورې |
| خورئ | و مو خوړ | خوړلی مو دئ | خوړلی مو وو | و به يې خورئ |
| خوري | و يې خوړ | خوړلی يې دئ | خوړلی يې وو | و به يې خوري |

## امر imperative :

امر فعل د یوه کار د کولو امر کوي. امر هغه فعل دئ چي د متکلم له خوا مخاطب ته ویل کیږي لکه :

ډوډۍ و خوره !

دلته را سه !

کور ته ولاړ سه !

کتاب و وایه (و لوله) !

تر کوره و ځغله !

ته کار و کړه !

ژر و ځغله !

## متعدي او لازمي فعل :

### متعدي فعل transitive verb :

هغه فعل ته ویل کیږي چي په جمله کي فاعل او مفعول دواړه راغلي وي او مصدر ئې په لاندي ډول وي لکه :

ماتول ، پرې کول ، بیدول ، ایسته کول ، خوړل او نور. یو څو مثالونه ئې :

ـ احمد قلم مات کړ.

په دغه جمله کي (احمد) فاعل ، (قلم) مفعول او (مات کړ) متعدي فعل دئ ، چي د (ماتول) مصدر څخه جوړ سوی دئ.

ـ زه ملالۍ ته وایم.

په پورتنۍ جمله کي (زه) فاعل، ملالۍ مفعول او (وایم) متعدي فعل دئ چي مصدر ئې (ویل) دئ.

## لازمي فعل intransitive verb :

هغه فعل ته ویل کیږي چي په جمله کي ئې فاعل را غلی وي او مفعول نه لري او مصدر ئې په لاندي ډول وي لکه:

ماتېدل، پرې کېدل، مړېدل، بیدېدل (ویدېدل) او نور لکه:

## بیدېدل (ویدېدل)

| حال | مطلقه ماضي | قریبه ماضي | بعیده ماضي | راتلونکې |
|---|---|---|---|---|
| بیدېږم | بیده سوم | بیده سوی یم | بیده سوی وم | بیده به سم |
| بیدیږو | بیده سوو | بیده سوي یو | بیده سوي وو | بیده به سو |
| بیدېږې | بیده سوې | بیده سوی یې | بیده سوی وې | بیده به سې |
| بیدېږئ | بیده واست | بیده سوي یاست | بیده سوي واست | بیده به سی |
| بیدیږي | بیده سو | بیده سوی دئ | بیده سوی وو | بیده به سي |
| بیدیږي | بیده سول | بیده سوي دي | بیده سوي ول | بیده به سي |

یوولسم تمرین:

د (کول) د متعدي فعل او (کېدل) د لازمي فعل د مصدرونو څخه د فعل نور حالتونه جوړ کړئ او بیا ئې د جوابو له پاڼې سره وګورئ.

# قـيد adverb

قيد هغه کلمه ده چي په جمله کي پر فعل ، صفت او بل قيد باندي اغېز وکي لکه په لاندي جملو کي :

**د فعل قيدونه :**

ــ سدو په خندا را غی .

په لوړه جمله کي (په خندا ) قيد دئ ځکه چي د (راغی ) پر فعل ئې اغېز کړی دئ .

ــ ملالۍ ژر را ځه !

دلته (ژر ) قيد دئ او پر (را ځه ) فعل ئې اغېز کړی دئ .

**د صفت قيدونه :**

ــ د ده کور په هغه ډېر جګ تعمير کي دئ .

په لوړه جمله کي (ډېر ) د صفت قيد دئ او پر (جګ ) صفت ئې اغېز کړی دئ .

ــ ملالۍ خورا ښکلې نجلۍ ده .

په لوړه جمله کي (خورا ) د (ښکلې ) صفت له پاره قيد دئ .

**د قيد قيدونه :**

ــ زمرک بيخي ژر را غی .

په لوړه جمله کي (بيخي ) د (ژر ) قيد له پاره قيد دئ او (ژر ) د

(راغی) د فعل له پاره قید دئ.

ـ احمد ښه په خندا و ویل.

دلته (ښه) د (په خندا) قید له پاره قید دئ او (په خندا) د و ویل د فعل له پاره قید دئ.

دوولسم تمرین:

په لاندي جملو کي قیدونه و ښیاست، و وایاست چي کوم ډول قید دئ او بیا ئې د جوابو له پاڼي سره و ګورئ.

۱ ـ دوی په خندا را غلل.

۲ ـ خدای دي په افغانستان کي ژر سوله را ولي.

۳ ـ سړی باید له هر چا سره په ورین تندي خبري و کي.

۴ ـ محمود ښه په خندا خبري و کړلې.

۵ ـ هلک بیخي په خوښي کور ته را غی.

۶ ـ رڼا د پلار سره بیخي په خوښي خبري و کړلې.

۷ ـ موږ به ډېر ژر کور ته ولاړ سو.

۸ ـ دا له پلار سره په خوښي ولاړه.

# د وصل کلمې conjunction

دا هغه کلمې دي چي دوه اسمونه یا دوې جملې سره نښلوي مثالونه ئې: لکه په لاندي جملو کي:

احمد او محمود راغلل.

ده و ویل چي دی ناروغ دئ.

دی راغی مګر دوی را نه غلل.

که څه هم ته په کور کي نه وې زه را غلم.

دی به درسي که ته غواړې.

یا به احمد یا به رښا موټر و چلوي.

هر څومره چي مي در ته و ویل غوږ دي و نه نیوی.

احمد رانه غی لکه چي نا روغ وو.

په لوړو جملو کي (او، چي، مګر، که څه هم، که، یا..... یا، هر څومره چي، لکه چي) د وصل کلمې دي.

## دیرلسم تمرین:

په لاندنیو جملو کي د وصل مناسبه کلمه و لیکئ او بیا ئې د جوابو له پاڼې سره و ګورئ:

- ................... تا دوی ته و ویل دوی را نه غلل.
- موږ ....... تاسي به یو ځای هرات ته سره ولاړ سو.
- ............... تاسي ډوډۍ خوړله پر ما هم ږغ و کئ.

ـ ته ........ را غلې ما و نه ليدې.

ـ دی را غی ............ کتابونه ئې را نه وړل.

ـ ...... به ته ....... به دی را سره ولاړ سئ.

## د ربط کلمې **preposition**

د ربط کلمې د اسم يا ضمير سره يو ځای راځي او د اسم يا ضمير رابطه (اړيکه) له **فعل** سره ښيي. مثالونه ئې:

ته، په، د، په ... کي، پر، تر، تر ... پوري، له ... راهيسي، له ... سره، له ... څخه ....

احمد محمود <u>ته</u> و ويل. دلته (ته) د (محمود) اسم رابطه د (و ويل) له **فعل** سره ښيي.

ملالۍ <u>په</u> قلم ليک ليکي. دلته (په) د قلم اسم رابطه د (ليک ليکي) له **فعل** سره منځته را وړي.

قلم پر مځکه و لوېد.

ما <u>په</u> ښوونځي <u>کي</u> لوست و وايه.

تر <u>تا</u> به ځان در و رسوم.

زه نن <u>له</u> ننګرهار <u>څخه</u> را غلم.

زه نن <u>له</u> ننګرهار<u>ه</u> را غلم.

برېښنا <u>تر</u> خوست <u>پوري</u> ځي.

بريښنا تر خوسته ځي.

پورتنۍ دوې جملې په هغو دواړو ډولو سمي دي.

موږ له پرون را هيسي خبرونه اورو.

موږ له محمود سره خبري کړي دي.

## څورلسم تمرين:

د لاندي جملو ځالي ځايونه د رابطو په مناسبو کلمو ډک کئ!

- پلار احمد ......... نصيحت و کړ.
- ملالۍ ....... مور سره ولاړه.
- نجلۍ ....... هغو کالي ور و مينځل.
- تا ...... کابل ...... پوهنځی و لوست.
- احمد ...... فراه ......... را غی.

## جمله:

کله چي يو څو ږغونه سره يو ځای سي کلمه ور څخه جوړه سي. څو کلمې چي سره يو ځای سي يو معنا لرونکی عبارت ور څخه جوړ سي. دغه عبارت د جملې په نامه يادېږي.

مثالونه ئې:

هلکان ښوونځي ته ځي.

موږ لوست وايو.

آیا ته کور ته ولاړې؟
شین ګله را سه!

کله چي موږ یو څه لیکو یا وایو، ښکاره خبره ده چي هغه لیکنه یا بیان به له جملو څخه جوړه وي.

د دې له پاره چي په لیکنه یا بیان مو ځوک و پوهیږي ښه به دا وي جملې مو لنډي وي.

دلته به د جملې یو څو ډولونه در و ښیو:
۱ـ خبریه جمله: هغه جمله ده چي د یو څه حال بیانوي لکه:
هلکان ښوونځي ته ځي.
۲ـ د پوښتني جمله: هغه جمله چي د یو څه پوښتنه کوي لکه:
آیا ته کور ته ولاړې؟
۳ـ امریه جمله: هغه جمله ده چي د یوه کار امر کوي لکه:
شین ګله، را سه!
لیک نښي:
لیک نښي په لیکنه کي کارول کیږي او دغه لاندي ډولونه ئې ډېر اړین دي:
۱ـ ټکی یا نقطه(.): کله چي یوه جمله پای ته و رسیږي، بیا دغه ټکی ایښودل کیږي لکه:

احمد له کابله را غی.

۲ـ کامه یا چپه و ( ، ) : کله چي څو شیان په یوه جمله کي یو ځای را سي باید تر منځ ئې ( او ) و لیکل سي. له ډیرو ( او ) لیکلو پر ځای دغه کامه ایښودل کیږي لکه:

احمد، محمود ، شین ګل او ملالۍ سره خپلوان دي.

یا دا چي د یوې وقفې له پاره د دوو لنډو جملو تر منځ را وړل کیږي چي مثالونه ئې په لاندي جملو کي وینی.

احمد که نا روغه هم دئ، خو بیا هم را غی.

۳ـ د پوښتني نښه یا سوالیه ( ؟ ) : کله چي په لیکنه کي یوه پوښتنه کوو ، بیا نو د جملې په پای کي دغه نښه ایږدو.

رښا لا په کابل کي ده ؟

له بده مرغه نن ورځ خلک په خپلو لیکنو کي دغه نښي نه کاروي. په زیاته بیا په فیس بوک کي. هغه وي چي څوک ئې په لیکنه نه پوهیږي ، چي څه وایي.

۴ـ شارحه ( : ) : دغه نښه هغه وخت کارول کیږي چي د یو څه په اره شرحه ور کول کیږي لکه:

ـ احمد داسي وایي:

ـ زه به ټوله پېښه در ته بیان کوم:

ـ د کتاب تر ځینو عنوانو وروسته دغه بیان را ځي:

۵ـ ندائیه ! : دغه نښه په دغو لاندي ځایو کي کارول کیږي:

ـ ملالۍ ! دلته را سه !

۶ـ اقتباسیه نښه " " : دغه نښه هغه وخت کارول کیږي، چیري چي لیکونکی په خپله لیکنه کي مستقیما د کوم بل چا خبره یا خبري را وړي لکه:

فزیک پوه ارشمیدس ویلي دي "یو جسم هغه وخت په اوبو کي ډوبیږي چي کتله ئې د بېځایه سوو اوبو تر کتلې زیاته وي".

# د ګرامر د تمرينو د جوابو پاڼه

**د لومړي تمرين جواب:**

يو سړى ډاکتر ته ورغى او له خپلي ناروغۍ څخه ئې شکايت وکړ.

ډاکتر ور ته و ويل: "ولي وختي را نه غلې"؟

ناروغ ور ته و ويل: "پخوا مي له يوناني طبيب څخه دوا اخيسته".

ډاکتر و ويل: "هغه مزخرف سړى دئ او د ځو مزخرفو دواوو نومونه ئې زده دي او ډېر نه پوهيږي".

ناروغ و ويل: "هو! ستا مزخرف نوم ئې هم زده وو".

**د دوهم تمرين جواب:**

| | | |
|---|---|---|
| سلماني | ويني | وخت |
| سړي | پوښتنه | وروڼه |
| سر | جواب | چړې |
| چاړه | | |

د دریم تمرین جواب:

خاص اسم: احمد شا بابا، هندوستان، کندهار

عام اسم: سفر، لښکر، خوا، ښار، شپې، تیاري، عسکر، تېښته، کور.

د څلورم تمرین جواب:

| مفرد اسم | جمع |
|---|---|
| غل، غله | غله، غلو |
| سړی | سړي |
| کور | کورونه |
| دېوال | دېوالونه |
| خاوند | خاوندان |
| سوری | سوري |
| پښه | پښې |
| ناره | نارې |
|ورور | وروڼه |

د پنځم تمرین جواب:

| مفعول | فاعل |
| --- | --- |
| انځر ګل | خوشال |
| احمد | موږ |
| تلویزیون | احمد |
| تلویزیون | موږ |
| د فتبال لوبه | |
| د احمد پلار | موږ |

د شپږم تمرین جواب:

ده ، دوی ، د دې ، ما ، د دې ، ور ، تا ، دوی ، زما

د اووم تمرین جواب:

| غایب | مخاطب | متکلم |
| --- | --- | --- |
| د دې ، د ده | تاسي | |
| دوی | | |
| ده | | |
| دوی | | ما |
| هغې | تاسي | |
| هغو | | موږ |

د اتم تمرين جواب:

ښه ، سره ، ښکلی ، لوی ، جګې ، څلورمه ، شپږمه، درو درو ، لسمه

د نهم تمرين جواب:

راځي، اخلي ، راوړل ، خبري کوي

د لسم تمرين جواب:

| فعل | زمانه |
| --- | --- |
| ځي | حال |
| لولې | حال |
| ولاړل | مطلقه ماضي |
| لوستلی دئ | قريبه ماضي |
| ويلي ول | بعيده ماضي |
| به... را سي | راتلونکې |
| تللی وم | بعيده ماضي |
| اغوستي ول | بعيده ماضي |
| را غلي دي | قريبه ماضي |

د يوولسم تمرين جواب:

## کول

| راتلونکې | بعيده ماضي | قريبه ماضي | مطلقه ماضي | حال |
|---|---|---|---|---|
| و به ئې کړم | کړ مي وو | کړی مي دئ | و مي کی (کړ) | کوم |
| وبه ئې کړو | کړی مو وو | کړی مو دئ | و مو کی (کړ) | کوو |
| و به ئې کړې | کړی دي وو | کړی دي دئ | و دي (کړ) | کوې |
| و به ئې کړی | کړی مو وو | کړی مو دئ | ومو کی (کړ) | کوی |
| و به ئې کړي | کړی ئې وو | کړی ئې دئ | وئې کی (کړ) | کوي |

## کېدل

| راتلونکې | بعيده ماضي | قريبه ماضي | مطلقه ماضي | حال |
|---|---|---|---|---|
| و به سم | سوی وم | سوی يم | سوم | کېږم |
| و به سو | سوي يو | سوي يو | سوو | کيږو |
| و به سې | سوی وې | سوی يې | سوې | کېږې |
| و به سی | سوي واست | سوي ياست | سواست | کېږی |
| وبه سي | سوی وو | سوی دئ | سو | کيږي |
| و به سي | سوې وه | سوې ده | سوه | کيږي |
| و به سي | سوي وه | سوي دي | سوه | کيږي |

د دوولسم تمرين جواب:

د تمرين تر جوابونو لاندي كرښه كش سوې ده.

۱ ـ دوی په خندا را غلل.

په خندا ـ د (را غلل) فعل له پاره قيد دئ.

۲ ـ خدای دي په افغانستان کي ژر سوله را ولي.

ژر ـ د (را ولي) فعل له پاره قيد دئ.

۳ ـ سړی بايد له هر چا سره په ورين تندي خبري و کي.

په ورين تندي ـ د (خبري و کي) فعل له پاره قيد دئ.

۴ ـ محمود ښه په خندا خبري و کړلې.

ښه د په خندا له پاره او په خندا د (خبري و کړلې) د فعل له پاره قيد دئ.

۵ ـ هلک بيخي په خوښي کور ته را غی.

بيخي ـ د (په خوښي) قيد له پاره قيد دئ او (په خوښي) د راغی فعل له پاره قيد دئ.

۶ ـ رڼا د پلار سره په بيخي ډېره خوښي خبري و کړلې.

په بيخي ـ د (ډېره) قيد له پاره قيد او (ډېره) د (خوښي) قيد له پاره قيد دئ.

۷ ـ موږ به ډېر ژر کورته ولاړ سو.

ډېر ـ د (ژر) قيد له پاره قيد دئ چي (ژر) بيا د (ولاړ سو) له پاره قيد دئ.

۸ ـ دا له پلار سره په خوښي ولاړه .

په خوښي ـ د ( ولاړه ) فعل له پاره قید دئ .

د دیرلسم تمرین جواب :

ـ هر څومره چي تا دوی ته و ویل دوی را نه غلل .

ـ مور او تاسي به یو ځای هرات ته سره ولاړ سو .

ـ که تاسي ډوډۍ خوړله پر ما هم ږغ و کئ .

ـ ته چي را غلې ما و نه لیدې .

ـ دی را غی مګر کتابونه ئې را نه وړل .

ـ یا به ته یا به دی را سره ځې .

څورلسم تمرین :

ـ پلار احمد ته نصیحت و کړ .

ـ ملالۍ له مور سره ولاړه .

ـ نجلۍ د هغو کالي ور و مینځل .

ـ تا په کابل کي پوهنځی و لوست .

ـ احمد له فراه څخه را غی .

# Pashto grammar

Abdul Ali Rasulzada

۲۰۲۳۰۶۱۰